Social Science AcademicJournal

لیډ د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د هبې شرعي حيثيت اوشرطونه

**پوهنمل محمدظاهر مدثر**

فقه او قانون څانګه، شرعياتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، لښکرګاه، افغانستان

د مسؤل بريښناليک: zahir.mudasir95@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۳/۲۷ منل سوې: ۱۴۰۵/۰۵/۰۲ خپره سوې: ۱۴۰۵/۰٦/۳۱ د ثبت ګڼه: LSSAJ-3-1-17 مخونه: ۱۴۷-١٦۴

**لنډيز**

د دې موضوع اهميت په دې کي دی چي هبه د اسلامي ټولنې د محبت، همکارۍ او اخوت د پیاوړتیا مهمه وسیله ده او د خلکو ترمنځ د مالي تعاملاتو په تنظيم کي مهم رول لري. دا څېړنه د حنفي فقهې له نظره د هبې د مفهوم، مشروعيت، ارکانو، شرطونو، احکامو او د هبې څخه د رجوع د مسئلو علمي توصيف اوتحليل وړاندي کوي. د څېړني موخه د هبې فقهي احکامو روښانه کول، د قرآن کريم، سنتو او فقهي مراجعو په رڼا کي د هغې د مشروعيت بيانول او د رجوع حدود مشخصول دي. په دې څېړنه کي د توصيفي، تحليلي او استنباطي ميتودونو څخه استفاده سوې ده. د څېړني موندني ښيي، چي هبه يو مشروع او مستحب تبرعي عقد دی چي د ايجاب، قبول او قبضې په تحقق سره نافذېږي، او له قبضې وروسته رجوع يوازي په ځانګړو شرعي شرايطو کي جواز لري، حال دا چي د رجوع ګڼ شرعي موانع د هبې د ثبات او د خلکو د حقوقو د خونديتوب لپاره مقرر سوي دي.

**کليدي کلمې:** حيثيت، رکن ، رجوع، شرط ، شرعت،هبه

# The Shariah Status and Conditions of Hibah (Gift)

**Senior Teaching Assistant. Mohammad Zahir Mudassir**

Department of Fiqh and law, Faculty of Sharia, Helmand University, Helmand, Afghanistan

Email: zahir.mudasir95@gmail.com

**Abstract**

Hibah (gift) is an important institution in Islamic law that promotes love, mutual cooperation, and social solidarity while regulating financial relations among individuals. This study examines the concept, legal basis, pillars, conditions, rulings, and revocation of hibah from the perspective of the Ḥanafī school of Islamic jurisprudence. It employs descriptive, analytical, and inferential research methods based on the Qur'an, the Sunnah, and authoritative juristic sources. The findings reveal that hibah is a lawful and recommended gratuitous contract that becomes effective upon the fulfillment of its essential pillars and legal conditions. Revocation after possession is generally restricted and is permissible only under specific circumstances recognized by Islamic law, whereas several legal impediments safeguard the stability of hibah and protect the rights of the parties. This study highlights the juristic principles governing hibah and their significance in ensuring fairness and legal certainty in financial transactions.

**Keywords:** Hibah, Hanafi Jurisprudence, Islamic Law (Shariah), Pillars, Conditions, Revocation of Hibah

## سريزه

الحمد لله ربِّ العالمين، الذي رغَّب في الإحسانِ والبذلِ والعطاء، وجعل الهبةَ سببًا للمودَّةِ والألفةِ بين العباد، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد:اسلام د انسانانو ترمنځ د مینې، همکارۍ او ورورولۍ د پیاوړتیا لپاره بېلابېل تبرعي معاملات مشروع ګرځولي دي، چې هبه (بخښنه) يې له مهمو ډولونو څخه ده. هبه د احسان، سخاوت او صله رحمۍ یوه غوره وسیله ده چې د ټولنیزو اړیکو په ټینګښت او د افرادو ترمنځ د محبت په زیاتوالي کې مهم رول لري. له همدې امله اسلامي شریعت د هبې د مشروعیت، ارکانو، شرطونو او احکامو په اړه واضح لارښوونې وړاندې کړې دي.

د دې څېړنې اساسي ستونزه د هبې او له هغې څخه د رجوع د احکامو په اړه د کافي علمي پوهاوي نشتوالی دی، چې کله ناکله د کورنیو او مالي شخړو لامل ګرځي. د موضوع اهمیت په دې کې دی چې هبه د خلکو په ورځنیو معاملاتو کې پراخ استعمال لري او د هغې د شرعي احکامو پېژندل د حقوقو د خوندي کولو او د شخړو د مخنیوي لپاره اړین دي. د څېړنې موخه د هبې د مفهوم، مشروعیت، ارکانو او احکامو بیانول، د رجوع مفهوم او مشروعیت روښانه کول او د رجوع موانع او شرایط څېړل دي.

د دې څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې هبه په اسلامي فقه کې څه شرعي حیثیت لري او په کومو مواردو کې له هغې څخه رجوع جایزه یا ممنوعه ده؟ د موضوع د شالید له مخې د حنفي فقهې په معتبرو کتابونو کې د هبې او رجوع احکام په تفصیل سره بیان شوي، چې دا څېړنه يې مهم مسائل په منظم او تحلیلي ډول راټولوي. په دې څېړنه کې د توصیفي او تحلیلي میتودونو څخه کار اخیستل سوی او د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي مراجعو په رڼا کې موضوع څېړل سوې ده.

**پخوانیو آثاروته کتنه:**

د هبې (تحفې) موضوع د اسلامي فقهې له مهمو بحثونو څخه ده چې پخوانیو فقهاوو او علماوو په دې پراخ بحثونه کړي دي. د فقهي مراجعو په کتنه کې څرګندېږي، چې د هبې تعریف، مشروعیت، ارکان، شرایط، د قبضې حکم او د رجوع مسئله د اسلامي فقهې په بېلابېلو کتابونو کې په تفصیل سره څېړل سوې ده.خوځنې موضوعات يې جلاجلا نه دي لیکي چې ټول خلک فهم ترې واخلي، لکه (المصولي ٦٨٣هـ) په الاختیارللتعلیل المختار) کې دهبې ایجاب اوقبول بیان کړي دي ، خو دا يې نه دي بیان کړي چې ګواکي دا دهبې له شرطوڅخه دي.(درر الحکام شرح غرر الاحکام بي نېټې ) د هبې د مشروعیت لپاره د قرآن کریم آیتونه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او د صحابه‌وو عملونه د دلیل په توګه وړاندې کړي دي.خودایې نه بیان کړي پلار یوه ځوی ته خپل مال هبه کوالای سي.(الزحیلی ) د هبې شرطونه، ارکان، حکم بیان کړي، خو د هبې حکمت يې نه دی واضح کړی.(بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ١۴٠٦هـ) د واهب او موهوب اړون بیان کړي او تشریح کړی دی.مګرد هبې څخه د رجوع اړوند بیان يې په تفصیلي او واضحو الفاظونه دی سره کړی.

(اللباب في الجمع بین السنة والکتاب 1414ه_) کې د هبې اړوند احکام په بېلابېلو برخو کې راغلي دي. کله د هبې څخه رجوع، د هبې د رجوع د کراهت، دزوجینوترځ د هبې موضوعات يې څېړلي ولي د حکمتونواړوند يې خاص بیان نه دی کړی.د دغو اثارو له مطالعې څخه څرګندېږي چې هبه یوازي د

مال د انتقال یوه وسیله نه ده، بلکې د ټولنیز یووالي، مینې او متقابلې مرستې د پیاوړتیا لپاره هم مهم رول لري.

که څه هم پخوانیو اثارو د هبې ډېرى فقهي اړخونه څېړلي دي، خوهغه څه چې موږ غواړو هغه داوه چې داسي یو مقاله ولیکو زموږ دسېمې اوساحې وګړي ورڅخه پورته کړي هغه به په پښتوژبه لیکل سوې وي. چې همدغه مقاله به وي.

## د څېړني ستونزه

سره له دې چې د هبې احکام د اسلامي فقهي په معتبرو مراجعو کې په تفصیل سره بیان شوي، خو د هبې د مشروعیت، ارکانو، شرطونو او په ځانګړي ډول له هبې څخه د رجوع د حدودو او شرایطو په اړه لا هم د عامو خلکو او حتی د ځینو حقوقي او شرعي زده‌کوونکو ترمنځ کافي علمي پوهاوی نه لیدل کیږي. د همدې ناسم پوهاوي له امله په عملي ژوند کې د هبې د صحت، د ملکیت د انتقال او د رجوع د جواز یا منع په اړه اختلافونه او کورنۍ او مالي شخړې رامنځته کیږي. له همدې امله اړتیا ده چې د قرآن کریم، سنت نبوي او د اسلامي فقهي د معتبرو مراجعو په رڼا کې د هبې احکام په منظم او علمي ډول وڅېړل سي، ترڅو موجوده ابهامونه له منځه ولاړ سي.

## د څېړني اهمیت

د دې څېړني اهمیت په دې کې نغښتی دی چې هبه د اسلامي شریعت له مهمو تبرعي معاملاتو څخه ده او د خلکو په ورځنیو مالي او ټولنیزو اړیکو کې پراخ استعمال لري. د هبې د مشروعیت، ارکانو، شرطونو او له هغې څخه د رجوع د احکامو دقیق درک د افرادو د حقوقو د خوندي کولو، د کورنیو او مالي شخړو د مخنیوي او د شرعي معاملاتو د سم تنظیم لپاره مهم رول لري.

دا څېړنه د قرآن کریم، سنت نبوي او معتبرو فقهي مراجعو په رڼا کې د هبې او رجوع اړوند احکام په منظم او تحلیلي ډول وړاندې کوي، چې د محصلینو، څېړونکو، د شرعیاتو د استادانو او د اسلامي فقهي له زده‌کوونکو سره د موضوع په ښه فهم کې مرسته کوي. همدارنګه، د دې څېړني پایلې کولای شي د هبې په اړه موجود ابهامونه کم کړي او د شرعي احکامو د سم تطبیق لپاره یوه علمي مرجع وګرځي.

## د څېړني موخه

د څېړني موخه د هبې فقهي احکامو روښانه کول، د قرآن کریم، سنتو او فقهي مراجعو په رڼا کې د هغې د مشروعیت بیانول او د رجوع حدود مشخصول دي.

## د څېړني پوښتنه

په اسلامي فقه کې د هبې (تحفې) مشروعیت، فقهي احکام او د هغې د رجوع حدود د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي مراجعو په رڼا کې څه ډول روښانه کیدای سي؟

## د څېړني میتو او مواد

**د څېړنې موندنې**

موندنې د علمي څېړنې هغه مهمې پايلې دي چې د موضوع د تحليل او د معتبرو شرعي او فقهي مراجعو د ارزونې پر بنسټ ترلاسه کیږي. په دې مقاله کې د هبې او له هغې څخه د رجوع احکام د قرآن کريم، سنت نبوي او اسلامي فقهې په رڼا کې څېړل شوي، او د موضوع مهمې علمي پايلې په لاندې ډول وړاندې کيږي.

**لومړی** د هبې لغوي او اصطلاحي تعريف :

**الف:** دهبې لغوي تعريف:

الهِبةُ: العَطِيَّة الخاليةُ عَنِ الأَعْواضِ والأَغْراضِ، فإِذا كَثُرَتْ سُمِّي صاحِبُها وَهَّاباً، وَهُوَ مِنْ أَبنية المُبالغة. (الإفريقی, ۱۴۱۴ هـ ۸۰۳ مخ)

ژباړه: هبه هغه ورکړه ده چې له بدل (عوض) او شخصي غرضونو څخه خالي وي.کله چې دا ډول ورکړه ډېره زياته شي، نو ورکوونکی ته يې وَهَّاب ويل کيږي، او دا د مبالغې له صيغو څخه ده.

الهِبَة: في اللغة التبرّع بما ينتفع به الموهوب (التعريفات الفقهية, بې نېټې ۲۴۱ مخ)

ژباړه: هبه په لغت کې هغه تبرع (وړيا ورکړې) ته ويل کيږي چې هغه کس ته ګټه ورسوي چې يو شی ورته ببښل سوی وي. هبه : په لغت کې د تخفې هديه او صدقې په معنی سره ده څکه د دوی معناګانې سره نژدې دي

**ب:** **دهبې اصطلاحي تعريف:**

(تمْلِيكُ الْعَينِ مَجَّانًا) أَيْ بِلاَ عِوَضٍ لاَ أَنَّ عَدَمَ الْعِوَضِ شَرْطٌ فِيهِ (ردالمحتار, بې نېټې ٦٨٧ مخ)

ژباړه: (هبه) د يو شي ملکيت بل چا ته بې له بدله ورکول دي؛ يعني پرته له عوضه څکه پدې کې د عوض نه موجوديت شرط دی .

هبه : د هغه تړون څخه عبارت دی چې د ژوند په حالت کې په نفلي ډول سره پرته د بدلې څخه ملکيت افاده کوي (الفقه الاسلامية وادلته, بې نيټې ٦٢١ مخ).

**دوهم دهبې الفاظ**

ايجاب: يا خو به په صريحه ټکو وي، لکه واهب چې ووايي: «وَهَبْتُ هَذَا الشَّيْءَ لَكَ» (دا شی مې تاته دروبښه)

او يا هغه څه چې د صريح په حکم کې وي، لکه د هغه قول: «مَلَّكْتُهُ مِنْكَ» (دا مې ستا په ملکيت کې درکړ)، يا «جَعَلْتُهُ لَكَ» (دا مې تاته وګرځاوه)، يا «هُوَ لَكَ» (دا ستا دی)، يا «أَعْطَيْتُهُ» (تاته مې درکړ)، يا «نَحَلْتُهُ» (تاته مې ډالۍ کړ)، يا «أَهْدَيْتُهُ إِلَيْكَ» (تاته مې هديه کړ)، يا «أَطْعَمْتُكَ هَذَا الطَّعَامَ» (دا خواړه مې تاته درکړل)، يا «حَمَلْتُكَ عَلَى هَذِهِ الدَّابَّةِ» (پر دې سپرلۍ مې سپور کړې) او نيت يې هبه وي؛ څکه چې په اوسني وخت کې د يو شي تمليک (ملکيت ورکول) پرته له بدل څخه، همدا د هبې مانا ده. دا په مطلق ايجاب کې و.

خو که ایجاب له کومې قرینې سره مل وي، نو هغه به یا وخت وي، یا شرط او یا منفعت.
د وخت له قرینې سره د مل ایجاب مثال (العُمْرَى): لکه یو څوک چې ووایي: «أَعْمَرْتُكَ هَذِهِ الدَّارَ» (دا کور مې ستا د عمر تر پایه درکړ)، یا «جَعَلْتُ هَذِهِ الدَّارَ لَكَ عُمْرَى» یا ستا د ژوند تر پایه، نو دا ټول هبه ګڼل کیږي؛ دا د هغه چا ملکیت دی چې ورته بخښل سوی (المعمر له) تر هغه چې ژوندی وي او له مرګ وروسته یې وارثانو ته پاتې کیږي. ځکه چې تملیک صحیح دی او توقیت (وخت ټاکل) باطل دي. (الفقه الإسلامي وأدلته, بې نیټې ۳۹۸۳ مخ)
د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې مبارکې وینا له مخې: « عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمْسِكُوا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ، وَلَا تُفْسِدُوهَا، فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَهَا حَيًّا وَمَيِّتًا، وَلِعَقِبِهِ (صحیح مسلم, بې نېټې 1246 مخ)
ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: خپل مالونه د ځان لپاره وساتئ او (په داسې شرطونو یې) مه فاسدوئ؛ ځکه چا ته چې یو شی د عمرى په ډول ورکړل شي (یعني د ژوند تر پایه وروبخښل شي)، نو هغه د هغه چا دی چې ورته بخښل شوی، که ژوندی وي او که مړ (یعني د هغه ملکیت ګرځي)، او د هغه له مرګ وروسته یې د هغه اولادې (وارثانو) ته پاتې کیږي.

## دریم د هبې شرعي حیثیت او دلایل

د هبې اثبات د هبې لپاره په قران او نبوي احدیثوکې ذکر سوی چې هر یو به یې په خپل ځای کې بیان سي .
په قران کریم کې: په قران کریم کې د هبې ذکر په مختلفو الفاظو سره سوی .(وَهَبَ ؛ وَهَبَتً، وَهَبْنا،لاهب،یهب، هبْ،الوهاب.
۱- وَهَبَ : په دی رابطه الله (جل جلاله) په قران شریف کې فرمایي :
الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ(سوره ابراهیم،الایه ۳۹)
ژباړه: دهغه خدای(جل جلاله) شکر دی چې هغه ماته پدی زوړوالي کې اسماعیل او اسحاق عندې زامن راکړل . همدارنګه په بل ځای کې الله (جل جلاله) فرمایي :
(فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ) (سورة اشعرا ،ایه ۲۱)
ژباړه: بیا زه ستاسې له ویرې نه وتښتیدم له هغه وروسته زما رب ماته حکم راکړ او زه یې په پیغمبرانو کښې شامل کړم.
۲- وَهَبَتْ: الله تعالى په قران کریم کې فرمایي چې :
(وَ امْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا) (سورة الاحزاب ، الایه ۵۰)
ژباړه : او هغه مؤمنه ښځه چې هغې خپل ځان پیغمبر (صلي الله علیه وسام) لپاره هبه کړی که د پیغمبر(صلي الله علیه وسام) له هغې سره نکاح کول وغواړي.

٣- وَهَبْنَا : الله (عزوجل) فرمایی:
(وَ وَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ وَ یَعْقُوْبَ كُلًّا هَدَیْنَا)( سورةالانعام ، الایه ٨٤)
ژباړه: او موږ هغه (ابراهیم علیه السلام) ته اسحاق او یعقوب وروبخښل، او هر یو ته مو هدایت وکړ.
٤- لِأَهَبَ : په دې بارك کې الله (جل جلاله) فرمایی :
(قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا)( سورة مریم ، ایة ١٩)
ژباړه: هغه وویل: زه ستا دپروردګار استازی یم او ددې له پاره لیږل شوی یم چې تاته یو سپیڅلی هلك درکړم.
همدا ډول په قران کریم کې نورزیاتونه شتون لري چې د هبې مشروعیت ورڅخه استنباطیږي خوهمدمره کفایت کوي.

**په نبوي احادیثو کې د هبې د اثبات دلائل**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «تَهَادُوا تَحَابُّوا» (الأدب المفرد مخرجا، ١۴٠٩هـ ٢٠٨ مخ)
ژباړه: د ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یو بل ته هدیې ورکړئ، ترڅو په خپل منځونوکي مو مینه به مو پیدا سي.
همدارنګه په یو بل مبارك حدیث کې ارشاد فرمایې: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ دُعِيتُ إِلَى كُرَاعٍ لَأَجَبْتُ، وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ» (البخاري، 1422هـ ٢٥ مخ)
ژباړه: که زه د پسه اویا وزې د پښې یوې وړې برخې خوړلو ته هم دعوت کړل سم، خامخا به یې قبول کړم او که ماته د پسه پښه هم د هدیه په ډول راولیږل سي، زه به یې ومنم.
دغه ډول په بل حدیث کې د هدیې د قبلولو اړند روایت سوی دی چې فرمایې: عَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْبَلُ الهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا» (سنن الترمذي، 1395 هـ۴ ج ٣٣٨ مخ)
ژباړه: له عائشې رضي الله عنها روایت دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم هدیه قبلوله او بدله (انعام) به یې ورکوله.
بل حدیث شریف روایت سوی چې فرمایې: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَوْلَادَكُمْ هِبَةُ اللَّهِ لَكُمْ، يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا، وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ، فَهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ لَكُمْ إِذَا احْتَجْتُمْ إِلَيْهَا» (المستدرك على الصحيحين، 1411هـ٢ج ٣١٢ مخ)
ژباړه: له عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی علیه وسلم وفرمایل: ببشکه ستاسو اولادونه د الله تعالی له لوري تاسو ته ډالی (هبه) دي؛ الله چې چا ته وغواړي لونې ورکوي، او چې چا ته وغواړي زامن ورکوي. نو هغوی او د هغوی مالونه ستاسو لپاره دي، کله چې تاسو ورته اړتیا ولرئ.

داپول احادیث أمت ته یوروحاني پیغام ورکوي چي مینه، محبت ،وروروولي، اخلاص او... له ابو هریره او عائشه رضي الله عنها څخه روایت سوي دغه احادیث د اسلام په اخلاقي او اجتماعي نظام کي د هبې او هدیې لوړ مقام څرگندوي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «تهادوا تحابوا» یعني یو بل ته هدیه ورکړئ ترڅو ستاسو ترمنځ مینه پیدا سي، چي له دې څخه معلومېږي هدیه د زړونو د نږدېوالي، د کینې د ختمېدو او د اسلامي اخوت د پیاوړتیا وسیله ده، او بیا یې په دې قول: «لو دعیت إلی کراع لأجبت ولو أهدي إلي کراع لقبلت» دا ښوولي چي که څه هم هدیه یا دعوت ډېر لږ او عادي شی وي، بیا هم باید د محبت او اخلاص له امله قبول سي، ځکه اسلام د تحفې قیمت ته نه بلکي نیت او محبت ته گوري؛ همدارنگه د عائشه رضي الله عنها په روایت کي راغلي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم به هدیه قبلوله او د هغې بدله به یې ورکوله، چي دا د احسان د قدرداني، شکر او مقابله نېکۍ درس ورکوي، او وروستی حدیث چي اولادونه (هبة الله) بلل سوي، دا حقیقت بیانوي چي زوی او لور دواړه د الله تعالی الهي ډالۍ او نعمتونه دي او والدین د اړتیا پر وخت د اولاد له مال څخه د شرعي حدودو دننه استفاده کولای سي؛ نو د دغو ټولو احادیثو مجموعه دا څرگندوي چي اسلام د محبت، تواضع، صله رحمي، متقابل احترام او اجتماعي همکارۍ دین دی او هدیه یې د مسلمانانو ترمنځ د الفت او یووالي مهمه وسیله گرځولې ده.

**دهبې حکمتونه**

د هبې اړوند ټول روایت سوي احادیث یومشترک پیغام لري چي په لاندي ډول به اشاره ورته وسي.

اسلام انسانان د مینې، وروروولۍ او یووالي خواته رابولي، او له هغو غوره لارو څخه یوه لاره هبه او یو بل ته ډالۍ ورکول دي.

د هبې مشروعیت یوازې د مال ورکول نه دي، بلکي تر شا یې ډېر ستر اخلاقي او ټولنیز حکمتونه پټ دي.

کله چي یو انسان خپل مسلمان ورور ته په اخلاص او ښه نیت سره څه ډالۍ کوي، نو د زړونو ترمنځ مینه زیاتېږي، کینې او دښمنۍ ختمېږي، او د حسد او بغض اور سړېږي.

هبه د انسان په نفس کي د سخاوت، مهرباني، پاك نیت او ښه اخلاقو روحیه پیاوړې کوي، او خلك د یو بل مرسته کولو، خواخوږۍ او نېکو اړیکو ته هڅوي.

همدارنگه په ټولنه کي د یووالي، اتفاق او وروروولۍ فضا رامنځته کوي، ځکه چي ډالۍ ورکول د محبت او احترام څرگندونه ده.

اسلام مسلمانانو ته دا لارښوونه کړې چي یو له بل سره په نېکۍ، احسان او ښه چلند کي ژوند وکړي، او هبه د همدې ښو اخلاقو یو ښکلی مظهر دی.

له همدې امله محمد صلی الله علیه وسلم مسلمانان د ډالۍ ورکولو او یو بل سره د محبت پیدا کولو ته هڅولي دي، څو د ټولنې په منځ کي مینه، اخوت او اتفاق لا پیاوړی سي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د حسد د له منځه وړلو اړوند فرمایلي دي: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَهَادُوا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ الضَّغَائِنَ» (مشکاة المصابیح، ۱۹۸۵م ۲ج ۹۱۲ مخ)

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مبارک حدیث داسي معنا لري: یو بل ته ډالۍ ورکړئ، ځکه چي ډالۍ د زړونو کینې او بدۍ له منځه وړي.

په دې حدیث کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم مسلمانان دې ته هڅوي چي یو له بل سره هدایا او ډالۍ تبادله کړي، ځکه ډالۍ یوازې مادي شی نه دی، بلکي د مینې، اخلاص او احترام ښکارندونه ده. کله چي یو انسان بل ته په ښه نیت ډالۍ ورکوي، نو د دواړو ترمنځ محبت زیاتېږي، زړه نرمیږي او پخوانۍ کینې، خوابدۍ او دښمنۍ له منځه ځي.

همدارنګه هدیه ورکول د اسلامي ورورولۍ، یووالي او ښو اخلاقو سبب ګرځي، او په ټولنه کي د مینې، خواخوږۍ او اتفاق فضا پیاوړې کوي. ځکه اسلام غواړي چي مسلمانان له یو بل سره په محبت، مهربانۍ او ښه چلند ژوند وکړي.

څنګه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د الهي شریعت لارښود او د انسانانو د طبیعتونو ښه پېژندونکی و، نو هغه ښه پوهېده چي ځیني خلک د بخل او تنګ نظرۍ خوی لري. له همدې امله یې هغه کسان چي خپله ورکړل سوې هبه یا ډالۍ بېرته اخلي، له ډېر ناوړه او کرکجن عمل سره تشبیه کړي، داسي عمل چي سالم انساني فطرت او پاک نفس ترې کرکه کوي او ځان ترې ساتي.

د دې تشبیه مقصد دا دی چي انسان باید د احسان، سخاوت او ورکړې وروسته خپل نېک عمل په منت، پښېمانۍ او بېرته اخیستلو خراب نه کړي، ځکه دا کار د اخلاقو، مروت او انساني شرافت خلاف دی. اسلام مسلمانانو ته د لوړ اخلاقو، پراخ زړه او پاک نیت درس ورکوي، څو د خلکو ترمنځ مینه، اعتماد او ورورولي ټینګه سي.

همدارنګه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هره خبره د الهي وحې له لارښوونې سره تړاو لري، ځکه هغه له خپله ځانه څه نه ویل، بلکي د الله تعالی له لوري ورته وحې کیده. لکه څنګه چي په حدیث شریف کي هم د هبې بېرته اخیستل یو ناوړه او بد عمل بلل سوی دی.

## د هبې د عقد حیثیت

### ۱- دهبې حکم.

هبه د ایجاب، قبول او قبض په وسیله صحیح ګرځي. یعنې یو لوری د هبې ورکولو اظهار وکړي، بل لوری یې ومني، او وروسته موهوبه شي قبضه او ترلاسه سي.

که چیرې موهوب له هماغه مجلسه د واهب له ځانګړې اجازې پرته قبضه او ترلاسه کړل سي، نو هبه صحیحه بلل کیږي ،خو که د دواړو له بېلېدو او د مجلس له ختمېدو وروسته قبضه کیږي، نو بیا د واهب اجازې ته اړتیا وي. که موهوبه شي له مخکي د موهوب له په واک او لاس کي موجود وي، نو یوازې د هبې په تحقق سره هغه د ده ملکیت ګرځي.

او د پلار له لوري خپل کوچني زوی ته هبه يوازې د عقد په ترسره کيدو سره بشپړيږي، يعنې جلا قبضې ته اړتيا نه لري. همدارنګه صغير (نابالغ) د خپل ولي، مور، يا د خپل ځان د قبضې په وسيله د هبې مالك ګرځي.

او په هغه مال کي چي وېشل کيدلای نه شي،(مثلاً:يوه وړه کوټه، يو کوچنی حمام،يا يوه څاه) د مشاع (شريك او غيرمقسوم) حصې هبه کول هم جايز دي.او په هغه مال کي چې د وېش امکان ولري، د مشاع او غيرمقسومې برخې هبه کول صحيح نه دي(مثلا که يو مال داسې وي چې وېشل کيدای شي، لکه کور، ځمکه يا دوکان، نو په هغه کي د نامعلومې او شريکي برخې هبه کول صحيح نه دي، تر څو چې هغه برخه جلا او معلومه نه سي) خو که هغه برخه ووېشل سي او بيا موهوب له ته وسپارل سي، نو هبه صحيح ګرځي.لکه: په کور کي شريکه برخه، په تي کي شيدې، د حيوان پر شا وړی، پر ونه خرما، او په ځمکه کي ولاړ فصل، همدارنګه که چا اوړه په غنمو کي، غوړي په شيدو کي، يا تېل په کنجدو کي هبه کړل، بيا يې ترې راوباسل او موهوب له ته يې وسپارل، نو دا هبه صحيحه نه ده،ځکه د عقد پر مهال موهوبه شي مستقل او جلا موجود نه و.او که دوه کسانو يو تن ته هبه وکړه، نو دا جايزه ده؛ خو که يو کس دوو کسانو ته په شريکه يو نه وېشل کيدونکی شی هبه کړي، نو دا صحيح نه ده. (الاختيار لتعليل المختار، 1356 هـ ۳ج 48-50 مخ) همدارنګه د مذهب بل معتبرکتاب هم دې ته ورته حکم بيان کړی دی وتصح بالإيجاب والقبول والقبض" أما الإيجاب والقبول فلأنه عقد، والعقد ينعقد بالإيجاب، والقبول، والقبض لا بد منه لثبوت الملك (الهداية ،في شرح بداية المبتدي، بې نېټې ۳ج ۲۲۲مخ) يعني(هبه د ايجاب، قبول او قبضې په وسيله صحيحه واقع کيږي.

**۲- دهبې ارکان اوشرطونه**

الف: دهبې ارکان

ركن الهبة الإيجاب في حق الواهب، لأنه تبرع فيتم من جهة المتبرع، أما في حق الموهوب له فلا تتم إلا بالقبول (اللباب في شرح الكتاب، بې نېټې ۱ج ۲۱۹ مخ)

يعني : د هبې رکن د ورکوونکي (واهب) په حق کي ايجاب دی؛ ځکه هبه يو تبرع (بې عوضه ورکړه) ده، نو د تبرع کوونکي له لوري بشپړيږي.خو د هغه چا په حق کي چي هبه ورته ورکول کيږي دهغه د قبول پرته نه بشپړيږي.

همدارنګه په فقه الاسلامي وادلته کتاب کي دی ته ورته قول نقل سوی دی: د حنفي فقهې له نظره د هبې رکن د قياس پر بنسټ ايجاب او قبول دي، ځکه هبه د بيع په څېر يو عقد دی. همدارنګه قبضه (مال په لاس کي اخيستل) هم رکن ګڼل کيږي؛ ځکه د ملکيت د ثابتېدو لپاره قبضه اړينه ده، برعکس د بيع چي هلته د عقد په ترسره کيدو سره ملکيت ثابتيږي.

خو د استحسان له مخې، د علاء الدين کاساني او ځينو نورو حنفي فقهاوو په اند، د موهوب له (هغه چا ته چي هبه ورکول کيږي) قبول رکن نه دی، بلکي يوازې د واهب (هبه ورکوونکي) ايجاب رکن

دی،ځکه چیهبه په لغت کي یوازي  د مالك له لوري د ورکړې اعلان ته ویل کیږي، پرته له دې چي قبول پکي شرط وي. البته قبول د هبې د حکم او اغېز د ثابتېدو لپاره ضرور دی، یعني هغه پایله چي پر هبه مترتبه کیږي، هغه د ملکیت لېږد دی،د دې اختلاف گټه په هغه چا کي څرگندیږي چي قسم یې کړی وي: زه به دا شی فلاني ته نه هبه کوم. که هغه دغه شی ورته هبه کړي، خو مقابل لوری یې قبول نه کړي،نو د استحسان له مخې به دی حنیث گڼل کیږي، خو د قیاس له مخې به حنیث نه گڼل کیږي.

د حنفي فقهې ډېری شارحین په دې نظر دي چي هبه د واهب له اړخه یوازي  په ایجاب سره بشپړیږي، او د موهوب له له اړخه په ایجاب او قبول دواړو سره بشپړیږي،ځکه هبه د تبرع (بې عوضه ورکړې) عقد دی، نو د متبرع له لوري د اقرار او وصیت په څېر یوازي  د هغه په اراده بشپړیږي.

خو موهوب له تر هغه وخته د هبې د مال مالك نه گرځي، څو یې قبول نه کړي او قبضه یې ترلاسه نه کړي. (الفقه الإسلامي وأدلته، بې نیټې ۳۹۸۳ مخ)

ب: دهبې دصحت شرطونه.

1: دواهب شرطونه.

عقل: یعني هبه ورکوونکی باید عاقل وي. نو د لېوني هبه سمه نه ده.

بلوغ: یعني هبه ورکوونکی باید بالغ وي. له همدې امله د نابالغ ماشوم هبه هم صحیحه نه ده.

ملکیت: یعني هبه ورکوونکی باید د هغه شي مالك وي چي هبه کوي. نو د غیر مالك هبه سمه نه ده.

مکاتب وي: یعني هغه غلام چي له خپل مالك سره یې د ازادۍ لپاره د پیسو د ورکړې تړون کړی وي.

ام ولد وي: یعني هغه وینځه چي له خپل مالك څخه یې اولاد زېږولی وي.

مدبر وي: یعني هغه غلام چي مالك یې ویلي وي: زما له مړینې وروسته به آزاد یې.

مبعض وي: یعني هغه غلام چي یوه برخه یې آزاد او بله برخه یې لا هم مملوك وي.

(البحر الرائق شرح کنز الدقائق، 1997 م ۷ ج ۴۸۳ مخ)

3: د موهوبې شرطونه

د موهوب (هغه مال چي هبه کیږي) د صحت شرطونه:

۱ - د هبې شی باید د عقد (هوکړې) پر وخت موجود وي

هبه یوازي هغه وخت سمه ده چي هغه مال یا شی د هبې د تړون پر وخت موجود وي. نو که څوك داسي  څه وبخښي چي لا تر اوسه نه وي پیدا سوی، هبه یې نه منعقدېږي. (المبسوط، 1421هـ ۱۲ج ۷۱ مخ)

۲ - هبه سوی شی باید مالِ متقوم وي

یعني هغه شی باید شرعاً او عرفاً د مال حیثیت ولري او د استفادې وړ وي.

نو د لاندي شیانو هبه نه صحیح کیږي:

1. آزاد انسان (حر)

2.مرداره (مېته)
3.وینه
4.د حرم ښکار
5.د احرام په حالت کي نیول سوی ښکار
6.او نور هغه شیان چي شرعاً مال نه ګڼل کیږي.

همدارنګه د داسي شی هبه هم نه کیږي چي مال خو وي، خو شرعاً ارزښت ونه لري لکه:
شراب (خمر)

۳ - هبه سوی شی باید په خپل ذات کي د ملکیت وړ وي (بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع، 1406هـ ٦ج ۱۲۹ مخ)

یعني هغه شی باید د چا شخصي ملکیت ګرځېدلی سي.
له همدې امله مباحات (هغه شیان چي لا د چا ملکیت نه وي) نه سي هبه کیدای.
بېلګه:

- په هوا کي ازاد مرغان
- په سیند کي ازاد کبان
- یا هغه لرګي چي لا چا نه وي نیولي

دا ټول د هبې وړ نه دي، ځکه لا د چا ملکیت نه دي ګرځېدلي.
دا دري واړه شرطونه (موجودیت، مالیت او د ملکیت وړتیا) د هبې د انعقاد شرطونه بلل کیږي.
۴ - هبه سوی مال باید د هبه کوونکي ملکیت وي
انسان نسي کولای د بل چا مال د هغه له اجازې پرته بل چاته هبه کړي.
ځکه ناممکنه ده چي څوک داسي شی بل ته په ملک کړي خپلهچي يې مالك نه وي.

**د پور (دَین) هبه**

زموږ د مذهب فقهاء کرام د پور هبه هم جایز ګڼي.
1.که پور هغه کس ته وبخښل سي چي پور پرې دی نو! دا هبه سمه ده.
لکه یو قرض ورکوونکی خپل پور پوروړي ته قرض وبخښي.
2.که پور بل چا ته هبه سي دا استحساناً جایز دی،خو شرط دا دی چي د پور اخیستلو لپاره ورته صریح اجازه ورکړل سي او هغه يې قبضه هم کړي. (درر الحکام في شرح مجلة الأحکام)
۵ - هبه سوی مال باید جلا او مشخص وي د فقهاوو له نظره که مال مشاع وي (یعني څو کسان پکي شریک وي) او د وېشلو وړ هم وي، نو هبه يې سمه نه ده تر څو چي برخه جلا او سپارل سوې نه وي.
هغه مشاع یامشترک مال چي وېشل کیدلای نه سي.
که مال داسي وي چي په وېشلو سره له منځه ځي یا ګټه يې خرابیږي، نو هبه يې جایزه ده.

بېلګې: موټر،حمام،کوچنی کور، قيمتي ډبره او جواهر.
د دې شيانو هبه د ضرورت له امله جايزه ګڼل سوې ده، څکه کله کله انسان د همدې مال يوه برخه بل چاته ورکول غواړي. په دې حالت کې يوازې د تصرف اجازه ورکول (تخليه) د قبضې مقام نيسي. (البناية شرح الهداية، 1420 هـ10ج 169 مخ)

**۳- دموهوب له شرطونه**

موهوب له لپاره څوشرطونه په لاندې ډول واضيح کيږي
1.د ملکيت اهل وي.
2.که ماشوم وي، يوازې د خپل قبول په وسيله مالك نه ګرځي.
3.د نابالغ او محجور له خوا ولي، وصي، قيم يا حاکم قبضه کوي.
د هبې د ملکيت شرط
4.قبضه ضروري ده؛ يوازې عقد بسنه نه کوي.
د قبضې اړوند شرطونه
5.پلار يا نيکه چې ماشوم ته هبه کوي، بايد د هغه له خوا قبضه وکړي.
6.د قبضې تر مخه د واهب يا متهب مړينه هبه نه باطلوي؛ وارث يې ځای ناستی کيږي.
د صيغې (ايجاب او قبول) شرطونه
7. قبول بايد د ايجاب مطابق وي.
8. قبول بايد د ايجاب وروسته سمدستي واقعسي.
9. د ايجاب او قبول ترمنځ بايد بېګانه او غير اړوند کلام فاصله رانه ولي.
10.هغه کلام چې په عقد پورې تړاو ولري، فاصل نه ګڼل کيږي او عقد ته ضرر نه رسوي. )الفقه على المذاهب الأربعة 1424 ,هـ 3ج 263مخ(

**د پلار هبه اولاد ته:**

وَلَوْ وَهَبَ رَجُلٌ شَيْئًا لِأَوْلَادِهِ فِي الصِّحَّةِ وَأَرَادَ تَفْضِيلَ الْبَعْضِ عَلَى الْبَعْضِ فِي ذَلِكَ لَا رِوَايَةَ لِهَذَا فِي الْأَصْلِ عَنْ أَصْحَابِنَا، وَرُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ إذَا كَانَ التَّفْضِيلُ لِزِيَادَةِ فَضْلٍ لَهُ فِي الدِّينِ، وَإِنْ كَانَا سَوَاءً يُكْرَهُ وَرَوَى الْمُعَلَّى عَنْ أَبِي يُوسُفَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ إذَا لَمْ يَقْصِدْ بِهِ الْإِضْرَارَ، وَإِنْ قَصَدَ بِهِ الْإِضْرَارَ سَوَّى بَيْنَهُمْ يُعْطِي الِابْنَةَ مِثْلَ مَا يُعْطِي لِلِابْنِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى هَكَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَهُوَ الْمُخْتَارُ، كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ.
رَجُلٌ وَهَبَ فِي صِحَّتِهِ كُلَّ الْمَالِ لِلْوَلَدِ جَازَ فِي الْقَضَاءِ وَيَكُونُ آثِمًا فِيمَا صَنَعَ، كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. وَإِنْ كَانَ فِي وَلَدِهِ فَاسِقٌ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعْطِيَهُ أَكْثَرَ مِنْ قُوتِهِ كَيْ لَا يَصِيرَ مُعِينًا لَهُ فِي الْمَعْصِيَةِ، كَذَا فِي خِزَانَةِ الْمُفْتِينَ .وَلَوْ كَانَ وَلَدُهُ فَاسِقًا وَأَرَادَ أَنْ يَصْرِفَ مَالَهُ إلَى وُجُوهِ الْخَيْرِ وَيُحْرِمَهُ عَنْ الْمِيرَاثِ هَذَا خَيْرٌ

مِنْ تَرِكَتِهِ، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ .وَلَوْ كَانَ الْوَلَدُ مُشْتَغِلاً بِالْعِلْمِ لاَ بِالْكَسْبِ فَلاَ بَأْسَ بِأَنْ يُفَضِّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، كَذَا فِي الْمُلْتَقَطِ. (الفتاوى الهندية، 1310هـ ۴ ج ۳۹۱ مخ)

ژباړه:که یو شخص د خپل صحت او روغتیا په حالت کې خپلو اولادونو ته کوم مال هبه کړي او وغواړي چې په هبه کې ځینو اولادونو ته پر نورو ترجیح او زیاتوالی ورکړي، نو د دې مسئلې په اړه زموږ د حنفي مذهب د اصحابو له لوري په ظاهر الروایه کې صریح روایت نشته.

خو له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه روایت سوی چې که د ترجیح علت د کوم اولاد د دیني فضیلت، تقوا یا علم زیاتوالی وي، نو په دې کې کومه ستونزه نسته خو که ټول اولادونه په دې لحاظ سره برابر وي، نو د ځینو ترجیح ورکول مکروه ګڼل کیږي.

همدارنګه امام ابویوسف رحمه الله څخه معلی روایت کړی چې که د پلار موخه د نورو اولادونو ضرر رسول او محروموول نه وي، نو د ځینو اولادونو ترجیح جایزه ده. خو که مقصد یې نورو ته زیان رسول وي، نو باید د ټولو ترمنځ مساوات رعایت کړي.

د همدې نظر له مخې باید لور ته هم د زوی په څېر ورکړل سي، یعني د هبې په مسئله کې د نارینه او ښځینه اولاد ترمنځ مساوات غوره ګڼل سوی دی.

د فتاوی قاضي خان د فتوا له مخې همدا قول د فتوا وړ او مختار قول دی، او په الظهیریة کې هم همدا نظر ذکر سوی دی.

که یو سړی د خپل ژوند او صحت په حالت کې خپل ټول مال یوازې یو اولاد ته هبه کړي، نو دا هبه د قضاء (او قضایي اعتبار) له مخې نافذه او صحیحه ده، خو د دې کار له امله ګناهګار بلل کیږي.

که د اولادونو په منځ کې کوم یو فاسق وي، نو مناسب نه ده چې پلار هغه ته د اړتیا څخه زیات مال ورکړي، ځکه په دې صورت کې به د هغه د ګناه او معصیت په کارونو کې مرسته کوونکی وګرځي.

که د یو شخص اولاد فاسق وي او پلار وغواړي چې خپل مال د خیر په چارو کې ولګوي او هغه اولاد له میراث څخه محروم کړي، نو دا کار د مال له پرېښودلو څخه غوره ګڼل سوی دی.

همدارنګه که یو اولاد د علم په زده کړه بوخت وي او د کسب او روزګار فرصت ونه لري، نو پلار ته اجازه سته چې هغه ته پر نورو اولادونو ترجیح ورکړي او زیات مال ورکړي.

## د هبې څخه رجوع

۱- رجوع په لغت کې د بېرته ګرځېدو، انصراف او واپس کیدو په معنا ده. عربان وایي: رجع من سفره یعني له سفره بېرته راستون شو، راجع الرجل أهله یعني سړی خپل کور او کورنۍ ته بېرته ور وګرځېد، او رجع عن الأمر یعني له خپل کار او پرېکړې څخه واوښت او بېرته وګرځېد.

علامه ابن سکیت رحمه الله رجوع د (ذهاب) (تللو) ضد او نقیض ګڼلی دی او وایي چې د فصیحې عربي ژبې له مخې د رجوع فعل په خپله مفعول ته متعدي کیږي. (معجم المصطلحات والالفاظ الفقهية، بې نېټې 2ج 131 مخ)

همدارنگه په قرآن کریم کي هم دغه کلمه په متعدي ډول استعمال سوې ده، لکه د الله تعالی دا وینا:
﴿فَإِن رَّجَعَكَ اللَّهُ إِلَىٰ طَائِفَةٍ مِّنْهُمْ﴾ [التوبة: 83]
ژباړه: که الله تعالی تا د دوی یوې ډلې ته بېرته راوگرځوي.
د لغوي اصطلاحاتو په جامعو کتابونو کي رجوع د انسان یا شي بېرته خپل لومړني حالت، ځای یا وضعیت ته ستنېدو ته ویل سوي ده، که دا ستنېدنه مکاني وي او که معنوي. له همدې امله ویل کیږي: رجع إلی مکانه یعني خپل پخواني ځای ته بېرته ستون سو، او رجع إلی حالة الفقر یعني د شتمنۍ له حالت وروسته بیا د فقر حالت ته وگرځېد. همدارنگه رجع إلی الصحة أو المرض د دې معنا لري چي انسان بېرته د روغتیا یا ناروغۍ پخواني حالت ته ور وگرځي.
له دې لغوي توضیحاتو څخه څرگندېږي چي د رجوع اساسي مفهوم د یوه موجود حالت پرېښودل او پخواني حالت یا وضعیت ته بېرته ستنېدل دي، او فقهاوو هم په فقهي استعمالاتو کي همدا معنا په پام کي نیولې ده. (الموسوعة الفقهیه, 1427هـ ۱ج ۱۲۷ مخ)
۲- په هبه کي رجوع جائز ده.
واهب تر هغه وخته د خپلې هبې د بېرته اخیستلو حق لري، څو د رجوع کوم مانع موجود نه وي. بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (6ج ۱۲۹ مخ) دلیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث دی: سنن عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ , قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْوَاهِبُ أَحَقُّ بِهِبَتِهِ مَا لَمْ يُثَبْ مِنْهَا» (سنن الدارقطني، 1424 هـ3ج 461 مخ)
یعني: د ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چي وایې: واهب تر هغه په خپلې هبې ډېر حقدار دی، څو یې بدل نه وي ترلاسه کړی.
همدارنگه د فتح باب العنایة مصنف هم دې ته روته قول نقل کړی دی چي وایې: ويَصِحُّ لِمَن وهب هبة لأجنبيّ الرُّجُوعُ عِنْهَا بِتراضٍ أوْ حُكْمِ قَاضٍ لكن بكراهةٍ.
د اجنبي غیر خپلوان لپاره د هبې کوونکي ته د خپلې هبې رجوع کول صحیح دي، خو شرط دا دی چي یا د متهب په رضایت سره وي او یا د قاضي په حکم سره. البته دا رجوع مکروه ده. (فتح باب العنایة بشرح النقایة, 14034 هـ4ج 228مخ) ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «العَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالكَلْبِ يَقِيءُ ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ» (بخاري، 1422هـ ۴ج ۱۵۸ مخ مسلم 3ج 1241 مخ)
ژباړه: ابن عباس رضی الله تعالی عنهماویلي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه څوك چي په خپله هبه کي رجوع کوي، د هغه سپي په شان دی چي خپل قی وکړي او بیا ورته ور وگرځي.
نو د احنافو په نزد که د رجوع شرعي شرطونه موجود وي، رجوع صحیح ده، خو د دې حدیث له امله مکروه او خلاف مروت گڼل کیږي نه حرام.
فقهاوو دهبې څخه درجوع حق په اووه مواردوکي منع بیان کړي

**الف: متصله زیاته:** که په موهوب مال کې داسې زیاتوالی راسي چې له اصل مال سره یوځای سوی وي، لکه په هبه سوې ځمکه کې ودانۍ جوړول یا ونې کرل، یا د حیوان چاغېدل چې د هغه ارزښت زیات کړي، نو رجوع نه صحیح کیږي، ځکه زیاتوالی له اصل څخه نه بېلېږي او په هبه کې داخل هم نه و. همدارنګه منفصله زیاته، لکه د مینځې بچی، د رجوع مانع نه دی، ځکه په اصل مال کې له هغې پرته رجوع ممکنه ده. همدارنګه که زیاتوالی یوازې په قیمت کې وي، لکه د لیک لوست یا کوم مهارت له امله، دا هم د رجوع مانع نه ګڼل کیږي.

**ب: د واهب یا متهب مړینه:** که له دواړو څخه یو مړ سي، د رجوع حق له منځه ځي. د متهب په مړینه سره مال وارث ته انتقالیږي، او د واهب په مړینه سره وارث د رجوع حق نه لري، ځکه هبه هغه نه ده کړې.

**ج: د هبې بدل (عوض):** که واهب د خپلې هبې بدل ترلاسه کړي او معلومه سي چې دا د هبې عوض دی، د رجوع حق ساقطیږي، که څه هم عوض د بل شخص (اجنبي) له خوا ورکړل سوی وي. خو که د عوض نیت معلوم نه وي، نو دا به نوې هبه ګڼل کیږي، نه عوض.

**د: د موهوب له ملک څخه وتل:** که متهب موهوب مال وپلوري، بل ته یې هبه کړي، یا وقف یې کړي، نو واهب نور د رجوع حق نه لري؛ ځکه ملکیت بدل سوی دی.

**ه: د زوجیت شتون:** که د هبې پر وخت واهب او متهب مېړه او ښځه وي، رجوع نه کیږي؛ ځکه د دې هبې موخه د مینې او خپلمنځي اړیکې ټینګول دي. که نکاح وروسته سوې وي، بیا رجوع جایزه ده.

**ز: محرمه قرابت:** که هبه د داسې خپلوانو ترمنځ وي چې یو پر بل محرم وي، رجوع نه کیږي.

**ح: د موهوب هلاکیدل:** که موهوب مال له منځه ولاړ سي، رجوع ممکنه نه ده؛ ځکه رجوع د موجود مال غوښتنه کوي، او له هلاک وروسته د رجوع محل نه پاتې کیږي. (فتح باب العناية بشرح النقاية، 14034 هـ4ج ۲۲۸مخ)

۳- د مرض الموت هبه

د مرض الموت (هغه ناروغي چې غالب ګومان پکې د مرګ وي) هبه د وصیت له احکامو سره نږدې تړاو لري. که ناروغ داسې کس ته هبه وکړي چې وارث نه وي، هبه یې د مال تر ثلث (یو پر درېیمه برخه) پورې نافذه ده. که له ثلث څخه زیاته وي، د اضافي برخې نفاذ د وارثانو اجازې ته اړتیا لري.

خو که ناروغ خپل یوه وارث ته هبه وکړي، دا هبه د نورو وارثانو له اجازې پرته نافذه نه ګڼل کیږي؛ ځکه شریعت د وارثانو ترمنځ د ضرر او بې‌عدالتۍ مخنیوی کوي.

که یو شخص وارث ونه لري او د مرض الموت په حالت کې خپل ټول مال بل چا ته هبه او تسلیم کړي، هبه صحیح ګڼل کیږي او د هغه تر مړینې وروسته د بیت المال لپاره په ترکه کې د مداخلې حق نه پاتې کیږي. (مجلة الأحكام العدلية)

**بحث او مناقشه**

څېړنه څرګندوي چې هبه د اسلامي شریعت له مشروع تبرعي عقودو څخه ده چې د افرادو ترمنځ د مینې، احسان او ټولنیز پیوستون د پیاوړتیا سبب ګرځي. دا پایله د څېړنې له اصلي موخې سره سمون لري، ځکه د څېړنې موخه د هبې د شرعي حیثیت او احکامو روښانه کول وو. د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي مراجعو د تحلیل له مخې ثابته سوه چې هبه یو مشروع او مستحب عمل دی چې د ټولنیزو اړیکو په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

همدارنګه څېړنې وښودله چې د هبې د صحت لپاره ایجاب، قبول او قبضه بنسټیز شرایط دي. له قبضې وروسته موهوب له د هبه سوي مال مالک ګرځي او په اصل کې هبه لازمه کیږي. که څه هم واهب ته د رجوع حق ورکړل سوی، خو شریعت د خپلوۍ اړیکو، زوجیت، عوض، د مال زیاتوالي او انتقال په څېر موانع ټاکلي دي چې د رجوع مخه نیسي. د دې احکامو اساسي موخه د خلکو د حقوقو ساتنه او د شخړو مخنیوی دی.

د پخوانیو فقهي آثارو لکه «بدائع الصنائع»، «الفتاوى الهندية»، «رد المحتار» او «مجلة الأحكام العدلية» له مطالعې څخه څرګندیږي چې د دې څېړنې پایلې له هغوی سره په عمومي ډول موافقې دي. دغو مراجعو د هبې او رجوع احکام په تفصیل سره بیان کړي، خو د معاصرو ټولنیزو اړتیاوو او عملي اغېزو بحث پکې محدود دی. د اوسنۍ څېړنې ځانګړتیا دا ده چې د فقهي احکامو تر څنګ یې د هغو ټولنیز اهمیت هم روښانه کړی دی.

په ټوله کې څېړنه ښيي چې د هبې او رجوع احکام د مالي معاملو د تنظیم، د کورنۍ د ثبات او د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره مهم رول لري او د اسلامي شریعت د عدل، احسان او د حقوقو د ساتنې له مقاصدو سره بشپړ توافق لري.

**پایله**

د دې څېړنې په ترڅ کې د هبې مفهوم، مشروعیت، ارکان، شرطونه، احکام او له هبې څخه د رجوع مسائل د حنفي فقهې په رڼا کې وڅېړل سوه. د څېړنې موندنو څرګنده کړه چې هبه د اسلامي شریعت له مشروعو او مستحبو تبرعي عقودو څخه ده چې د افرادو ترمنځ د مینې، احسان او ټولنیز پیوستون د پیاوړتیا لامل ګرځي. همدارنګه د هبې د صحت لپاره ایجاب، قبول او قبضه اساسي شرطونه

څېړنې دا هم څرګنده کړه چې که څه هم واهب ته په ځینو مواردو کې د رجوع حق ورکړل سوی، خو شریعت د خپلوۍ اړیکود مال زیاتوالي او انتقال په څېر موانع مقرر کړي دي چې د رجوع مخه نیسي. د مرض الموت د هبې په اړه هم څرګنده سوه، چې شریعت د وارثانو د حقونو د ساتنې لپاره ځانګړې محدودیتونه وضع کړي دي.

د دې څېړنې پایلې د حنفي فقهې په معتبرو مراجعو لکه کې له ذکر سوو احکامو سره په پراخه کچه موافقت لري. د څېړنې اساسي موخه، چې د هبې او رجوع د احکامو علمي روښانتیا وه،چې هبه یو مشروع عقد دی او رجوع یې د ځانګړو شرعي شرایطو او محدودیتونو تابع ده.

راتلونکوڅېړونکوته وړاندیز کیږي چې د هبې معاصر حقوقي تطبیقات، د اسلامي اصولوترمنځ مقایسوي مطالعه، او د هبې اړوند معاصرې قضیې په ژوره توګه وڅېړي. په ټولیز ډول دا څېړنه د هبې او رجوع د فقهي احکامو د لا ښه درک لپاره ګټوره ده او د هغې پایلې د کورنیو او مالي شخړو په حل، د خلکو د حقوقو په ساتنه او د اسلامي معاملاتو د سم تطبیق په برخه کې ارزښتناک رول لرلای سي.

**اخځلیکونه**

قرآن کریم

1. أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي، سنن الدارقطني .(1424).
2. أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع المستدرك على الصحيحين. (1411هـ) بيروت: دار الكتب العلمية.
3. أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى البناية شرح الهداية. (1420 هـ) بيروت، لبنان: دار الكتب العلمية.
4. البخاري, محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الأدب المفرد مخرجا. (۱۴۰۹هـ ۲۰۸) بيروت: دار البشائر الإسلامية.
5. العثمانية, مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة، مجلة الأحكام العدلية. (بې نېټې) نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، آرام باغ، کراتشي.
6. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (1406هـ) بيروت: دار الكتب العلمية.
7. د. محمود عبدالرحمن عبدالمنعم معجم المصطلحات والالفاظ الفقهية. (بې نېټې) معجم المصطلحات والألفاظ الفقهية. الشاملة الذهبية: دار الفصيلة.
8. ردالمحتار. (بې نېټې) على الدر المختار وحاشية ابن عابدين رد المحتار. بيروت: دار الفكر.
9. زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم البحر الرائق شرح كنز الدقائق. (1997 م) البحر الرائق شرح كنز الدقائق. بيروت - لبنان: دار الكتب العلمية.
10. صحيح البخاري. (1422هـ) محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. دار طوق النجاة.
11. عبد الرحمن بن محمد عوض الجزيري الفقه على المذاهب الأربعة. (1424 هـ) الففه على المذهب الاربعة. بيروت - لبنان: دار الكتب العلمية.

12. عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي (بې نېټې ) اللباب في شرح الكتاب. دار الكتاب العربي.
13. عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي الاختيار لتعليل المختار. (1356 هـ) القاهرة: مطبعة الحلبي.
14. علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين الهداية ،في شرح بداية المبتدي. (بې نېټې) بيروت، لبنان: دار احياء التراث العربي - بيروت - لبنان.
15. محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي. (1395 هـ) سنن الترمذي. قاهرة، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.
16. ملا علي القاري,فتح باب العناية بشرح النقاية. (1014 هـ) الشاملة الذهبية.
17. لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي الفتاوى الهندية. (1310هـ) الفتاوى الهندية. بيروت: دار الفكر.
18. محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي المبسوط. (1421هـ) المبسوط. بيروت: دار الفكر للطباعة.
19. محمد عميم الإحسان المجددي البركتي,التعريفات الفقهية. (1424هـ) دار الكتب العلمية.
20. محمد بن عبد الله الخطيب العمري، أبو عبد الله، ولي الدين، التبريزي ( ١٩٨٥م) مشكاة المصابيح. بيروت: المكتب الإسلامي.
21. محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى. (١٤١٤ هـ) لسان العرب. بيروت: دار صادر.
22. مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (بې نېټې) صحيح مسلم. بيروت: دار إحياء التراث العربي .
23. محمد بن فرامرز بن علي الشهير(بې نېټې) درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (لبنان بيروت: دار الكتب العلمية.
24. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ (بې نیټې) الفقه الاسلامية وادلته. سورية _ دمشق: دار الفكر.

.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:3 Issue: 1 Year:1405**